# خدائي خدمتګار تحریک
# او د انګرېز استعمار په ضد د هندوستان حریت خوځښتونو پرتلیزه شننه

# A Comparative Analysis of "Khudai Khidmatgar Movement" and other anti-impearilist movements

شوکت ترین*

ډاکټر کلیم الله بړیڅ*

**Abstract**:

In this research paper the scholars have presented a comparative account of the Khudai Khidmatgar Movement and other movements waged for the independence from the colonial masters in subcontinent. The paper especially analyzes the struggle of Indian National Congress, role of Jamiat-e-Ullema Hind, Movement of Hirar, Khaksar Movement and Anjuman-i-Watan Balochistan. The structure, approach and vision of Khudai Khidmatgar Movement is ellaborated and contexually described.

خدائي خدمتګار غورځنګ د نړۍ د هغو سترو غورځنګونو او نهضتونو څخه ګڼل کېږي چا چې د خپلو بې ساري سربښندونو په برکت د نړۍ په تاریخ کښې د یوې بېلګې په توګه وړاندې کېږي.

دغه غورځنګ د کال 1930ء څخه تر کال 1947ء پورې د برصغیر د نیمې وچې د خپلواکۍ په مبارزه د منطقې د نورو نهضتونو سره اوږه په اوږه خپله مبارزه کړې ده، او بیا یې د هند تر وېش وروسته په پاکستان د اولس واکي او د پښتنانهٔ د سیالۍ په لاره کښې هم د پاکستان د نورو ګوندونو سره خپلې ملګرۍ ته دوام ورکړی دی. که څهٔ هم تر خپلواکۍ وروسته په ګډ هندوستان کښې بې شمېره ګوندونه موجود وو لېکن په دې لیکنه کښې یوازې د پينځو لويو ګوندونو سره د خدائي خدمتګار د کار او مبارزې د نوعیت، یووالي پر ملګرتیا او ګډو موخو رڼا اچول شوې او د پاکستان تر جوړېدو وروسته د دې غورځنګ د نورو ګوندونو سره پرتلیز جاج زمونږ د دې لیکنې څخه دباندې ده.

* Subject Specialist, Government Elementary College Loralai.
* Assistant Professor, Department of History, University of Balochistan Quetta

## خدائي خدمتګار او کانګريس:

کانګريس د هندوستان تر ټولو زوړ سياسي ګوند دی، تر دې ګوند وړاندې په هندوستان کښې هيڅ ډول سياسي ګوند وجود نۀ درلود، دغه ګوند په کال 1885ء کښې په دې موخه په وجود کښې راوستل شو چې د هندوستان د اولس ستونځې دې د حکومت و مخ ته وړاندې شي او د خلقو په غوښتنو د وخت حکومت خبر وساتل شي.

د کانګريس غړي به يو ځای ټولېدل بحث به يې کاوۀ، بيا به يې دغه غوښتنې تر سرکار پورې رسولې، اندازاً تر سلو کالو پورې کانګريس يوازې تر خپلو دغو ټيټو موخو پورې محدود ؤ. لېکن د ګاندهي جي و هندوستان ته د راتګ او په سياست کښې د برخې اخستلو وروسته کانګريس د خپلو وړو غوښتنو سره د هندوستان د خپلواکۍ غوندې سترې غوښتنې ته هم لاس واچاوۀ. د کال 1914ء د لومړي جهاني جنګ څخه بيا تر 1929ء د هندوستان د بشپړه غوښتنې پورې کانګريس په هندوستان کښې خپلې رهبنې پياوړې کړې وې او د ګاندهي جي، ابوالکلام ازاد او جواهر لال نهرو غوندې لارښودونکو يې د لارښونې واګې په لاس کښې اخستې وې.

د باچاخان د کانګريس د مخورو سره تر کال 1920ء وروسته په څۀ نۀ څۀ بڼه اړيکې وې خو باضابطه تړون هغه وخت منځ ته راغلو چې باچا خان د انډين نېشنل کانګريس د کال 1929ء د دسمبر د مياشتې په 30م او 31مه نېټه کلنۍ غونډې لاهور کښې ګډون وکړ په دغه غونډه کښې کانګريس د برصغير پاك و هند د بشپړه خپلواکۍ د غوښتنې قرار داد پاس کړ. باچاخان چې کله د دغه غونډې څخه بېرته پښتونخوا ته راغلو نو هلته د غونډې ګډون کوونکو په خاصه د زنانو نظم وضبط د خپلواکۍ په مبارزه کښې ګډون دومره اغېزمن کړی ؤ چې د بېرته راتګ سره سمدستي يې په کال 1930ء د جنوري په مياشت کښې په باقاعده ډول د رضاکارانو جلبول (بهرتي) پيل کړه دغه ډلې دپاره يو نوم هم په کار ؤ چې تر اوږدۀ بحث وروسته د قاضي عطاء الله په وړانديز وربانديې د خدائي خدمتګار نوم کښېښودل شو"(1).

د خدائي خدمتګار غورځنګ په لومړي سر کښې يوازې يو اصلاحي، تنظيم ؤ چې موخه يې د ټولنې اصلاح وه لېکن وروسته يې د ټولنې د اصلاح سره سره يو

سیاسي جنبه هم خپله کړه، لکه څنګه چې ما وړاندې ووئېل چې د باچا خان او کانګریس تر منځ تر دې وړاندې لاتړون پیدا شوی ؤ خو د خدائي خدمتګار تر تنظیم کولو وروسته د کانګریس او خدائي خدمتګار تر منځ یو منظم تړون او د فکر یووالی هغه وخت را منځ ته شو کله چې باچاخان د ګجرات په بندي خانه کښې په لومړي ځل د کانګریس د مشرانو لکه جواهر لال نهرو، ابو الکلام ازاد سره د نزدې وکتل، په دې بند کښې د کانګریس د مشرانو پرته د هندوستان د بېلابېلو نهضتونو سره تړلي مشران لکه مولانا کفایت، مولانا احمد سعید، مولانا ظفرعلي خان، عطاء الله شاه بخاري او داسې نورو سره هم په فکري حواله ډېر نزدې شو"(2).

باچاخان وايي چې: "ځومره مطالعه او لوست ما چې د ګجرات په بندي خانه کښې کړی دی ښایي چې بل هیڅ ځای مو نۀ وي کړی، د قرآن مجید پرته د ګیتا درس مې هم دلته وکړو. پنډت جګټ رام به د ګیتا درس ورکولو او ما به د قرآن ترجمه کوله"(3).

د سائمن کمېشن د رپورټ تر چاپېدو وروسته چې کله د هندوستان اولس له خوا د دې غندنه پیل شوه انګرېز حکومت په لندن کښې کال 1930ء د نومبر په میاشت کښې لومړی ګول مېز کانفرنس را وغوښت خو دا وخت چونکې د کانګریس، خدائي خدمتګار، احرار او جمعیت علماء هند مشران د ګجرات په لویې بندي خانه کښې بندیان وو، انګرېز سرکار د نورو ګوندونو خلق په دغه کانفرنس کښې د هندوستان د اولس په استازیتوب وټاکل، لېکن چونکې دغه خلقو د هندوستاني اولس د استازیتوب نۀ صلاحیت درلود او نۀ حق، ځکه د داسې کومې ناستې د بریالیتوب امکانات نۀ وو ځکه حکومت د مصلحت او روغې جوړې په لور ګامونه پورته کړل او کال 1931ء د مارچ پر لسمه نېټه د ګاندهي جي او اردن تر منځ هغه مشهوره لوظنامه وشوه چې په سیاسي تاریخ کښې د ګاندهي، اردن پیکټ په نامه یادول کیږي چې په نتیجه کښې ګاندهي جي د خپل سول نافرمانۍ د تحریك څخه لاس واخیست او حکومت ټول سیاسي بندیان خوشي کړل"(4).

لېکن باچاخان بیا هم انګرېز خوشی نۀ کړ چې ګاندهي لاړۀ ارون ته په کلکه ووئېل چې که چرې باچاخان خوشی نۀ کړل شي نو بیا دې دغه لوظنامه منسوخه وګڼل شي او مونږ بېرته د بندي خانې تګ ته تیار یو"(5).

وائسرای ګاندهي ته ووئېل چې دا سرۀ پوښ غورځنګ دی د دې د کانګریس سره هیڅ تړون نۀ شته بلکې د دې تړون د سرۀ پوښ بالشویك غورځنګ سره دی، (دلته یاد ساتل په کار دي چې چونکې د خدائي خدمتګارانو جامې به سرې وې چې بنسټ یې انګرېزانو د روس د بالشویك غورځنګ سره تاړۀ) ځکه چې تر څو باچاخان په کانګریس کښې خدمتګار ضم کړی نۀ وي او په خپله هم په کانګریس ګډ شوی نۀ وي تر هغو نۀ شي خوشی کېدی او د عدم تشدد لمن به هم نیسي. باچاخان لیکي چې زۀ د ګجرات په بندي خانه کښې په دې خبره خبر شوم چې زما په غیر موجودګۍ کښې سرکار پر خدائي خدمتګارانو ډېر زیات ظلم کړی دی او د دې خبرې بله هیڅ چاره نۀ شته ځکه مې لومړی مسلم لیګ ته د خپلوي لاس وغزاوۀ خو د هغو د انکار وروسته مې د کانګریس سره ملګرتیا وکړه، داسې د خدائي خدمتګار په بشپړ ډول په کانګریس کښې تر ضم کولو وروسته په کال 1931ء کښې باچاخان د ګجرات د بندي خانې خوشی کړل شو، داسې په هم دې کال په کراچۍ کښې د ټول هند کانګریس کلنۍ غونډه کښې تر ګډون وروسته د ګاندهي زوی دیوداس ګاندهي د ځان سره پښتونخوا ته راوست چې کله هغه د پښتنو حالت ولید چې د خپلواکۍ دپاره یې متې رانغښتې دي نو هك پك شو، په دې زمانه کښې که څۀ هم خدائي خدمتګار د کانګریس برخه ؤ لېکن په عین حال کښې یې خپل ځانګړی حېثیت برقرار ساتلی ؤ.

د کال 1931ء په پای کښې په هندوستان کښې د ګول مېز کانفرنس دپاره تبلیغات روان وو چې د برطانوي حکومت له خوا په لندن کښې کېدونکی ؤ چې په کښې و صوبه سرحد ته د آئین بدلولو وړاندیز وشو، کانګریس په دې د ګډون څخه په ټېنګه کولو سره زیاته کړه چې مونږ د خپلواکۍ پرته بل هیڅ نۀ منو، باچاخان هم چونکې د کانګریس برخه ؤ د دې کانفرنس مخالفت وکړو چې په نتیجه کښې یې سرکار په صوبه سرحد کښې کانګریس او خدائي خدمتګار

غورځنګ غیر قانوني وبلل او په سرحد کښې د ګرفتاریانو یوه لړۍ پیل شوه او اندازاً لس زره رضاکاران په خپله خوښه بندي خانې ته ولاړل"(6).

باچاخان هم د دې کال د دسمبر په پنځویشتمه نېټه د کرسمس په شپه یو وار بیا د بند بندي کړل شو. په کال 1934ء کښې د خپل معیاد بشپړه کولو وروسته چې کله را خوشی کړل شو نو و پنجاب ته یې په تګ بیا هم بندېز ولګول شو خو باچاخان د سېټه. جمنالال په بلنه واردها ته ولاړ چې ګاندهي یې و مېلمستیا ته چمتو ناست ؤ.

په واردها کښې د باچاخان او ګاندهي تر منځ یو د بل سره د نږدې سره وپېژندل، یو د بل په مسلك یې سر سره خلاص کړ، د هندوستان د بشپړه خپلواکۍ ترهی وتړل شوه، ګاندهي جي په خپله دې حقله وایي:

"زما ډېر زړۀ غوښت چې ځو ورځې د خان عبدالغفار خان سره و اوسېږم لېکن کله هم داسې موقع په لاس را نغله، د تېر کال په وروستیو میاشتو کښې مې دغه ارمان پوره شو، دا زما خوش قسمتي وه چې نۀ یوازې خان صاحب بلکې د هغۀ ورور ډاکټر خان صاحب هم د هزارې باغ بندي خانې څخه د خوشې کېدو وروسته ما ته راغلو ځکه داسې ما ډېر د نږدې له دوی سره ولیدل، څومره څومره د دوی زما تعلق او شناخت زیاتېدو زما زړۀ و دوی ته نږدې کېدو، د دوی خلوص او رښتیا وېنا په ما ډېره اغېزه وکړه، ما ولیدل چې دوی رښتیا وېنا او عدم تشدد د مصلحت په بنسټ نۀ بلکې د عقیدې په ډول خپل کړې دي"(7)..

په واردها کښې د ګاندهي او باچاخان د لیدونو په حقله د باچاخان د ژوند لیك لومړی لیکونکی حما د یو ډسیایي لیکي:

"د دې ځای تول اوسېدونکي د خان عبدالغفار څخه ډېر زیات متاثره شو او دی به هر سهار آشرم ته هم تلو او ګاندهي جي به د تلسي داسې رامائن اورېدل"(8).

باچاخان لا په واردها کښې ؤ چې د کال 1934ء د دسمبر د میاشتې پر اوومه نېټه بیا ونیول شو او کال 1937ء د اګست په میاشت کښې د بمبۍ د بندي خانې د خوشي کېدو وروسته لومړی واردها بیا کراچۍ ته ولاړ، په هم دې کال د ستمبر په میاشت کښې په صوبه سرحد کښې د کانګریس حکومت د رایو د لارې د اکثریت پر بنسټ منځ ته راغلی ؤ او ډاکټر خان صاحب یې وزیر اعلی ټاکل شوی ؤ.

د کانګریس د وزارت تر جوړېدو وروسته د انډين نېشنل کانګریس صدر جواهر لال نهرو و صوبه سرحد ته راغلو او د صوبې د ډېرو سيمو دوره يې وکړه، هغه په خپل ژوند کښې د خدائي خدمتګار په حقله وايي:

"د دغه عظيم الشان غورځنګ ستر مشر خان عبدالغفار خان ؤ چې "فخر افغان" او "سرحدي ګاندهي" بلل کېدی، هغه يوازې په دې سوب په صوبه سرحد کښې ناشوده برياليتوب تر لاسه کړی ؤ چې هغه په چوپتيا او استقلال سره کار کاوهٔ او هيڅ ډول د سرکار په سختيانو او ستونځو کښې يې چورت نهٔ واهٔ، د نن سبا د سياست چې کوم مطلب اخستل کيږي په دې لحاظ هغه څهٔ سياسي سړی نهٔ ؤ هغه د سياست په چمونو نهٔ ؤ پوه، هغه يو رښتيا ويونکی سړی ؤ، هغهٔ د هندوستان د خپلواکۍ سره د صوبه سرحد خپلواکي هم غوښته، هغهٔ وليدل چې د برياليتوب دپاره عمل په کار دی، ځکه يو باعمله سړی ؤ"(9).

هم دغه کال ؤ چې مهاتما ګاندهي تر اباسين و پښتونخوا ته را پورې واتهٔ او د پښتنو سياسي پوهې او نظم و ضبط ډېر زيات متاثر کړو، خو انګرېزانو د مسلمانانو او هندوانو د خپلواکۍ دپاره يو موټې کېدل کله زغملی شو په دې خاطر يې پر قبائلي سيمو د پرله پسې تشدد او ناروا وو لړۍ پيل کړه، کال 1939ء د خدائي خدمتګارانو او د کانګريس تر منځ د بېلتون کال ؤ، د دې کال په ستمبر کښې په يورپ کښې د دويم نړيوال جنګ په پيل کېدو سره د ټول هند کانګريس کمېټۍ د انګرېزانو په حمايت کښې پرېکړه وکړه چې باچاخان ورسره اتفاق نهٔ درلود، ځکه چې هغهٔ دغه کار د عدم تشدد اصولونو په ضد ګاڼهٔ ځکه يې د دې پرېکړې په ضد د کانګريس نه خدائي خدمتګار را بېل کړ، او په نتيجه کښې د سرحد ايالت د کانګريس حکومت د هم دې کال په وروستي سېشن کښې د جنګ په ضد د قرار داد پاس کولو وروسته د نومبر د مياشتې په 7مه نېټه مستعفي شو، باچاخان وايي:

"زما او د کانګريس لارې په دې جلا شوې چې کانګريس د تشدد لاره خپله کړه او زمونږ د خدائي خدمتګارانو لاره د عدم تشدد وه، زمونږ د خدائي خدمتګارانو کار او اصول د نورو ظلم او تېری زغمل دي او نهٔ دا چې نورو ته تکليف ورسوو د پښتنو په حقله دا ويل کيږي چې د تورو، ټوپکو تر سايو لاندې

ژوند تېروي لېکن دا بـل ډول پښـتانهٔ دي، دوی خپلـو ټولـو عزيزانـو او وروڼـو تـه ويلي دي چې هر ډول وسله وغورځوی او په خپلو خپلو کښې سره ورونه شئ"(10).

ګاندهي جي دغه اصولي دريځ دومره متاثره کړ چې هغه خپله پرېکړه بېرتـه واخستله او د جنګ لاره يې پرېښوده، او بيا د عدم تشدد پر لار روان شو او داسې خدائي خدمتګار او باچاخان بېرته د کانګريس برخـه وګرځېدل، پـه هـم دې شـپو کښې باچاخان په پښتونخوا کښې د خدائي خدمتګارانو په ګډون کليـو کليـو تـه ولاړ، د کـال 1940ء د اکتـوبر د مياشـتې پـه يولسـمه نېټـه يـې واردهـا کښـې د کانګريس د ورکنګ کمېټۍ په غونډه کښې د سول نافرمانۍ پرېکړه وشوه چـې په دې اساس د کال 1942ء د اګست د مياشتې پر اتمه نېټه د ټول هند کـانګريس د "هندوسـتان پرېـږدئ"، د غورځنـګ پرېکـړه وکـړه چـې د ټـول هنـد پـه ګـډون پـه سرحد کښې په سلګونو خدائي خدمتګاران بنديان کړی شول، دغه کش و ګير تر کال 1944ء پورې روان ؤ. د وهلو ټکولـو پـه دې جريـان کښـې پـه خپلـه د باچاخـان دوې پښـتۍ مـاتې شـوې، پـه کـال 1945ء کښـې کلـه چـې د يـورپ جنـګ پـای تـه ورسېدهٔ د نورو سياسي بنديانو په ګډون باچاخان يو وار بيا د بنده را خلاص شو.

په دې کال د اپرېل د مياشتې د 21 مۍ څخه تر 23 مـۍ پـورې پـه پېښـور کښـې د سياسي کانفرنس دائر کړل شو چې د کـانګريس پرتـه د هندوسـتان د ټولـو لويـو لويو نهضتونو لکه جمعيت علماء هند، احرار، خاکسار او انجمـن وطـن مشـرانو په کښې ګډون درلود، باچاخان وئيل چې:

"د خپلـواکۍ دپـاره زمـونږ هـم هغـه پروګـرام دی چـې د مخـه مـو ؤ د خـدائي خدمتګارانو د سرښندنې په سوب د خپلواکۍ مزل را لنډ شوی دی"(11).

په هم دې کال د اګست پـه مياشت کښـې پـه کشـمير کښـې قـامي کـانفرنس وشو چې باچاخان، جواهر لال نهرو او خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي په کښې ګډون درلود.

د کانګريس او خدائي خدمتګارانو د کال 1930ء څخه واخلې تر کال 1946ء د جون د مياشتې تر دربهمې ورځې ډېره کلکه او درنه ملګري روانـه وه، دواړو يـو پر بل ډېر کلك باور درلود، خو چې پر هم دغه نېټه د هندوستان د وېش منصـوبه وړاندې شوه او هغه قام چې د متېو په زور يې د نړۍ ډېره لويـه ابـادي او سيمه د انګرېز ښکېلاك د زوره خپلواکه کړه د يو داسې نامعلوم سباؤن په لور وشړل شـو

چې تر ننه پورې يې هم نهٔ سر معلوم دی او نهٔ پښې. باچاخان د کانګريس او مونټ بېټن سازش او د کانګريس بې وفائي، تر سرليکونو لاندې په خپل ژوند ليک کښې د دې ښهٔ سپيناوی کړی دی او وايي "مونږ خو ازاد شوي وو او پېرنګيان زمونږ د ملکه تلونکي وو خو د لارډ مونټ بېټن او سردار پټېل په سازش د غلامانو غلامان شوو، زهٔ په دې خبره دومره خفه نهٔ يم څکه چې که پښتون پښتون شي نو دی څوك غلام کولی نهٔ شي، خو خفه په دې يم چې د خدائي خدمتګاري هغه تحريك چې په ډېرو خوارو، مصيبتونو، تکليفونو او قربانيو جوړ شوی ؤ هغه يې تس نس کړ او جوړ شوی نظام يې ورله ګډ وډ کړ.

د زړهٔ په باغ مې ړلی وشوه
بويه چې بيا سپرلی راځي سپړي ګلونه"(12).

## خدائي خدمتګار غورځنګ او انجمن وطن

"انجمن وطن" يو بل داسې سياسي غورځنګ دی چې د هند د خپلواکۍ په مبارزه کښې يو جوت ځای لري، د دې غورځنګ بنسټ ايښوونکی د هند د خپلواکۍ ګټونکو په لومړي قطار کښې ولاړ لاربښود خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزی دی چې د هند د خپلواکۍ په سياسي تاريخ کښې د بلوڅي ګاندهي په نامه سره شهرت لري، د دغه غورځنګ بنسټ د کال 1938ء د مۍ د مياشتې پر شلمه نېټه د سهيلي پښتونخوا په مرکز کوټه کښې کښېښودل شو چې موخه يې د هند د بشپړه خپلواکۍ په څنګ په سهيلي پښتونخوا چې ورته د برطانوي بلوچستان ظالمانه نوم راکړل شوی ؤ او بلوچستان کښې د پښتانهٔ او بلوڅ اولس د ښهٔ ژوند دپاره يې اساسي قانون بدلونونه وو"(13).

خدائي خدمتګار غورځنګ او انجمن وطن د هند د نورو سياسي نهضتونو په پرتله يو بل ته ډېر نژدې په دې وو چې د دواړو نهضتونو لاربښود پښتانهٔ وو، د يو نهضت لاربښود باچاخان او د بل نهضت لاربښودنه د پښتونخوا وطن د بلې څنډې درانهٔ پوه او لاربښود خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزي کوله، د باچاخان او خان شهيد ملګري او تعلق په کال 1931ء کښې په هند کښې منځ ته راغلی ؤ، که څهٔ هم تر دې وړاندې خان شهيد وايي زهٔ د باچاخان د نامه او خدمته خبر وم،

لیکن کله چې په کال 1931ء د جولائي د میاشتې په پای کښې د سیند د لارې بمبۍ ته ولاړم هم په دغه وار یوه ورځ ګاندهي جي ورېللی وم چې سبا له باچاخان سهار په رېل کښې راځي ته او دیوداس چې تازه د اووۀ. (سرحد) د دورې واپس راغلی ۇ به ټېسن له ورځئ سهار له مونږ دوه او یو بل نوی ځوان درې واړه ټېسن (استېشن) ته ورغلو، باچاخان د امیر محمد خان لالا او میا احمد شاه د خدائي خدمتګارو له خوا راغلل باچاخان دلته ما په لومړي ځل ولید"(14).

دغه لومړی ملاقات بیا د ملګرۍ په داسې کلک پړي وتړل شي چې پایله یې د هند د خپلواکۍ سره د خدائي خدمتګارانو په ټولو اهمو کانفرنسونو او غونډو کښې به د انجمن وطن او د انجمن وطن ټولې غونډې به په خدائي خدمتګارانو درنې وې. خان شهید به تل په پښتانۀ او بلوڅ وطن په غونډو کښې د باچاخان د عظمت او مبارزې بېلګې وړاندې کولې او د خدائي خدمتګارانو په کېمپونو کښې به خان شهید ته د هرکلي ترانې وړاندې کېدې.

"خان شهید د کال 1939ء د جنوري د میاشتې پر شلمه نېټه د لاهور څخه د باچا خان د لیدو دپاره پېښور ته ولاړ او هلته تر څو ورځو پورې پاته شو او هلته یې د خدائي خدمتګار د تنظیم کالبوت او کار د نزدې وکاتۀ. هم دغسې باچا خان د خان شهید په بلنه د هم دې کال د ستمبر په میاشت کښې د سهېلي او پښتونخوا او بلوچستان ځینو سیمو په زړۀ پورې دوره وکړه. او د انجمن وطن د بېرغ د رپولو په دستوره کښې ګډون وکړ. باچاخان وایي:

"د ډېرې مودې نۀ زمونږ د بلوچستان د ورونو دا خواهش ۇ چې زۀ دې بلوچستان ته ولاړ شم په دغو ورځو کښې عبدالصمد خان اڅکزی چې د بلوچستان د ورونو رښتنی خدمتګار او رهنما دی په ما زور ولګوو چې تۀ بلوچستان ته ولاړ شه، زۀ په خیر کوټې ته ورسېدم، عبدالصمد خان اڅکزی ستېشن ته راغلی ۇ ما یو څو ورځې چې په کوټه کښې تېرې کړې بیا د کوټې نۀ فورټ سنډېمن، قلعه عبدالله، هندوباغ، ګلستان، چمن، لورالائي او نورو ځایونو ته مې ډېره خوشحاله او کامیابه دوره وکړه".(16).

د خپلې اوږدې دورې په ترڅ کښې د خان عبدالغفار خان د وینا وو لنډیز د هندوستان د آزادۍ، د صوبې د اولس دپاره د صوبائي خود مختارۍ او ښۀ ژوند غوښتنه وه. د روب و غونډې ته د وینا کولو پر وخت خان عبدالغفار خان ووئیل"

زما مقصد دادی چې تاسو د فرنګي دغلامۍ خلاص کړم، ما ټولو هندوانو او مسلمانانو باندې رېغ کړی دی. چې یو شئ، زهٔ د فرنګي استعمار سره د عدم تشدد په اسلحه جنګېږم، د جهان اولسونه خوشحاله دي، لاکن پښتانهٔ پرېشانه دي، مونږ پښتانهٔ وایو چې دا زمونږ قسمت دی، لاکن دا غلطه ده، مهرباني وکړئ،قرآن پاک ولولئ.الله تعالیٰ وایي چې څوک خپل قسمت پخپله نهٔ بدلوي، زهٔ یې نهٔ بدلوم"(17).

خان شهید ووئیل " انجمن وطن د خپلواکۍ بېرغ پورته کړی دی. چې مطلب یې د مرئتوبه ځان خلاصول دي. لکه څنګه چې د سرحد پښتنو د عزت مقام تر لاسه کړی دی. دغه عزت خان عبدالغفار خان زمونږ دپاره هم غواړي"(18)

د دغه دورې په پای کښې کله چې په اوسته محمد کښې د انجمن وطن غونډه روانه وه، د یو بلوڅ سردار له خوا پر دغه غونډه برید وشو چې خان شهید ، باچاخان او محمد امین کهوسو درې واړه ډېر کلك ټپیان شول. باچاخان په خپل ژوند لیك کښې د دې پېښې یادونه کړې ده"(19).

خان شهید هم د دې پېښې یادونه کړې ده، انجمن وطن د تنظیم جوړونې په برخه کښې هم ځان ته ځانګړتیاوې درلودې چې هر کال به یې کلنۍ غونډه کوله چې کله یې دوه کاله پوره کېدو ته نژدې شول نو یې د دریم کلني کنونشن پرېکړه وکړه او لورالائي یې ورسره د کنونشن د ځای په توګه وټاکهٔ. دا وار یې د کانګریس نامتو مشر جواهر لال نهرو، باچاخان او امیر محمد خان هوتي ته د ګډون بلنه ورکړه، پر جواهر لال نهرو او باچاخان باندې سرکار و سهېلي پښتونخوا ته پر راتګ بندېز ولګاوهٔ البته امیر محمد خان هوتي لورالائي ته راغلو چې هغه وخت د سرحد د قانون ساز اسمبلۍ غړی ؤ. هغهٔ دلته په لورالائي کښې د باچاخان پېغام وړاندې کړ او د دې خبرې سپیناوی یې وکړ چې د خدائي خدمتګارانو او انجمن وطن مقصد یو دی"(20).

تر دې وروسته خان شهید د کال 1941ء د نومبر په میاشت کښې د خدائي خدمتګارانو په لاریون کښې د ګډون دپاره اتمانزو ته ولاړ چې هلته یې فضل رحیم ساقي په درنښت کښې یوه منظومه سپاسنامه وړاندې کړه.

## منظومه سپاسنامه

د سرحد لویه مهمانه ستړی مه شې
د پښتون د ژوند سامانه ستړی مه شې
ټول جهان کښې دې ښکاره بلوچستان کړو
اې زمونږ خان صمد خانه! ستړی مه شې
تا بنیاد د انجمن د وطن کښېښود
قامولي دې کړه روښانه ستړی مه شې
لوی واړهٔ دې د غفلت د خوبه ویښ کړل
اې رښتیني مسلمانه! ستړی مه شې
د وطن د ازادۍ د جنګ دپاره
شولې مخکښې د هر چا نه ستړی مه شې
پښتانهٔ دې د ذلت په ژوندون تنګ کړل
اې په خپل وطن قربانه! ستړی مه شې
مړاوي بوټي دې تازهٔ د حریت کړل
روحاني قومي باغبانه! ستړی مه شې
په الله دې توکل دی ننګیالیه!
یو قایل ستا په مړانه ستړی مه شې
زور او زر په تا اثر کولی نهٔ شي
د زلمو روحِ روانه! ستړی مه شې
توره تا چې د اقبال کړله څرګنده
دښمن تښتي له میدانه ستړی مه شې
ستا د سوز او ساز اواز لوی انقلاب شو
زر زر خور شو له طوفانه ستړی مه شې
ستا تحریك یو اخیري آه د مظلوم ؤ
ظلم اوور واخیست له ځانه ستړی مه شې
لکه کان شي د ګوګرو دړې وړې
لوګی خیژي له جهانه ستړی مه شې

درتـــــه وړانــــــدې لـــــوی مــــزل او نــــرۍ لاړ ده
د صـــراط د پــــل نـــه ګرانــــه ســـتړې مـــه شـــې
د ظـــــالم پـــــه کـــــور د مــــرګ چغـــــې نــــارې دي
زر بــــه ورك شـــي لــــه دنيـــا نــــۀ ســـتړې مـــه شـــې
ريګســــتان پـــــه يـــــو ســــاعت کښــــې لالــــه زار شــــو
د پســـــرلي نـــــام و نښـــــانه! ســــتړې مــــه شـــې
ســــــۀ ګلونـــــه د عبـــــرت ځــــان ســــــره يوســــــه
د ســــرحد لـــــه ګلســــتانه ســـــتړې مــــه شـــې
هرکلــــــی درتــــــه خـــــدائي خـــــدمتګار وايـــــې
د ســـاقي لــــه تـــت زبانـــه ســـتړې مـــه شـــې"(21)

په کال 1943ء د فروري په مياشت کښې نامتو خدائي خدمتګار امير محمد خان لالايو وار د انجمن وطن د کلنۍ غونډې په لوړ کښې سيوۍ (سبي) ته راغلو او وئيل يې: "زۀ يوازې يو خدائي خدمتګار يم او د صوبه سرحد او د دې قامي فوج يو سپاهي يم، بيا يې د باچاخان پېغام وړاندې کړ وروسته دغه غونډه د خان عبدالغفار زنده باد، خان عبدالصمد خان زنده باد په چغو پای ته ورسېده"(22).

د خدائي خدمتګار او انجمن وطن دغې کلکې ملګرۍ هم داسې دوام درلود، د ژوند تولو ترخو سړو کښې باچاخان او خان شهيد سره کلك ملګري وو. د کال 1945ء د اپرېل د مياشتې د 21 مئ ځخه تر 23 مۍ پورې چې کوم سياسي کانفرنس شوی ؤ چې د نورو سياسي ګوندونو تر څنګ انجمن وطن هم په کښې برخه درلوده او خان شهيد په کښې وينا کړې وه، هم دغسې د دې کال د اګست د مياشتې پر دريمه نېټه چې د شېخ عبدالله د خوا د کشمير نېشنل کانفرنس کومه دستوره شوې وه، باچاخان او خان شهيد دواړه سره ملګري تللي وو. جواهر لال نهرو هم په دې موقع د دوی ملګری ؤ"(23).

يو بل عجيبه اتفاق وګورئ د باچاخان څخه ملګري په دې خفه وو چې ولې يې خدائي خدمتګار په کانګريس کښې ضم کړ، او د خان شهيد څخه په دې خوابدي وو چې ولې انجمن وطن په کانګريس کښې نۀ ضم کوې، د دواړو په ملګري هغه لړ خوابدي غونډې راغله چې د هند د وېش دريم جون منصوبه مخ ته راغله ځکه لکه څنګه چې وړاندې د کانګريس د پښتنانۀ سره بې وفائۍ يادونه

وشوه خان شهید چې د حالاتو کتو وروسته باچاخان او خدائي خدمتګار غورځنګ ته داسې ووئېل:

"د انګرېزي حکومت تازه اعلان چې په دې مطلب کړی دی چې مونږ تر جون 48ء پورې یعني یو کال او درې میاشتو پورې هندوستان پرېږدو، دا بیان د ټول هندوستان بلکې د ګړدې دنیا دپاره چې څومره اهم دی، د هغۀ اندازه کول څۀ ګرانه خبره نۀ ده. مګر څومره اهمیت چې دا بیان زمونږ د پښتنو دپاره لري هغه زما په خیال تر نورو خلقو زیات دی، ولې چې دا بیان وایي چې که د هندوستان خلق یعني کانګریس او لیګ په خپل مابین کښې جوړ شو نو انګرېزان به د حکومت اختیار هغه نوي حکومت ته ورکړي چې هغه به دوی په صلاح د نوي قانون د لاندې جوړ کړي یا به یې دې موجوده مرکزي حکومت له ورکړي او که چرې دوی جوړ نۀ شي نو به دا اختیار جلا جلا صوبو ته ورکړي.

دا دواړه صورتونه به په مونږ پښتنو باندې د نورو خلقو نۀ جدا اثر اچوي ولې چې هندوستان کانګریس دی او که لیګ، هندو دی که سکهـ او که مسلمان د هغوی په لاس کښې اوس هم د خپل ملك او د خپل قام څۀ نۀ څۀ اختیار شته او یو نۀ یو صورت یې جوړ دی او هغه دې ته تیار دی چې نور اختیار په لاس کښې واخلي که دا اختیار مرکز ته لاړ شي او که صوبې ته، د هغوی جنګ جګړه د زیاتو اختیاراتو دپاره ده او جګړه یې په کور کښې نۀ ده بلکې د بل چا سره ده، د کور جګړې یا خو هغوی پرېښي دي او یا یې پخوا په کراره فیصله کړې دي، مګر د پښتون حالت د دې نۀ مختلف دی، اګرچه پښتانۀ یوه کوچنۍ صوبه یعني سرحدي صوبه خو لري مګر د دې قام اکثریت که په لحاظ د تعداد کړې او که په لحاظ د رقبې کړې لااوس هم په قبائلي علاقو او بلوچستان کښې په داسې حالت کښې پروت دی چې د هغو نۀ سر ښکاره دی او نۀ پښې. نۀ یې یو متحده نظام شته او نۀ یې د نمائندګي یوه طریقه معلومه ده، نۀ یې د آمد و خرڅ څۀ پته لګیږي او نۀ یې د آئنده ترقۍ څۀ نخښه ښکاره ده. که مونږ په دې عرصه کښې خپل دا ټولې کمۍ پوره نۀ کړې نو نتیجه به یې څۀ وي؟.

انګرېزانو چې هندوستانیانو ته اختیارات ورکړل نو زمونږ د قام د دې حصې اختیار به چا ته ورکوي؟ او هر چا ته چې یې ورکړي هغه خلق به ښۀ یا بد نظام یا انصاف والا هرڅۀ چې وي دا ظاهره خبره ده چې مونږ به په خپله نۀ یو او دا

فرق هم معمولي نۀ دی اوس هم مونږ ګورو او پخوا مو هم کتلي دي چې پردي خلق څوك د تهذيب په نامه، څوك زمونږ پستۍ په بهانه او لاڅوك د اسلام په پاك نامه مونږ نۀ صرف خوري بلکې په خپلو کښې مو جنګوي هم. نو سبا له به دا خلق چرې ملکي شي چې زمونږ ښېګړې به د ځان تر خیر مخکښې کړي. په داسې حالت کښې مونږ پښتنو لـه خصوصاً د ازاد قبایلو او د بلوچستان پښتنو لـه پـه کار ده چې په دې خبره غور وکړو او هر څومره ژر چې کېدی شي د خپل ځان لاره معلومه کړو او خپل آئنده صورت جوړ کړو او د صوبه سرحد پښتنو له هم په کار ده چې هغه که په لیګ کښې وي او که په کانګریس کښې هغه د خپلې سیاسي ډلې مفاد د پښتون قام په فایده لومړۍ نۀ کړي او هغه په دې مسئله کښې د پښتون قام د جوړولو کوشش وکړي.

که هندوستان لا پاکستان جوړ جنت وي او په کښې د پښتون قام پوره حصه نۀ وي او لا يې داسې حال وي لکه اوس مونږ يې څۀ کوو. زما امید دی که پښتون مشران دې مسئلې ته د پښتو په شان وګوري او د پښتونوالي دپاره کار وکړي نو پښتون قام به هم د نورو قامونو په شان د وینا په دې نوې او انقلابي خبره یعني د انګرېزانو په تلو د هندوستان په ازادۍ کښې یو باعزته حصه دار شي"(24).

دلته یوه بله خبره هم ډېره جالبه ده هغه دا چې کله د هندوستان د اساسي قانون دپاره کومه اېډوائزري کمېټۍ جوړه شوه هغې د یوې د خپلې یوې اساتیا دپاره باچاخان د دې دپاره ټاکلی ؤ چې د صوبه سرحد د قبایلي سیمو د اولس سره ووینې او د هغو سره د صلاح او مشورې وروسته خپل وړاندیزونه وړاندې کړي او خان شهید د برطانوي بلوچستان یعني سهېلي پښتونخوا د قبایلي سیمو د اولس سره تر صلاح او مشورې وروسته خپل وړاندیزونه وړاندې کړي"(25).

لېکن دا کار هم سر ته نۀ ورسېدۀ. خدائي خدمتګار غورځنګ او انجمن وطن، د هندوستان تر وېش پورې په کلکه خپله ملګري پاللې ده لېکن د پاکستان د جوړېدو سره د هندوستان نورو قامونو خو خپله خپلواکي ترلاسه کړه لېکن د نړۍ د قامونو په تاریخ کښې تر هر چا زیاته مبارزه کوونکي. خان عبدالغفار خان او خان عبدالصمد خان قام پښتون تر نن ورځې لا د هغو درنو مشرانو د سربندنو د مېوو خوړلو بې برخې دي. بې شکه خان عبدالغفار خان یو عظیم مصلح او خان عبدالصمد خان یو عظیم سیاست مدار ؤ.

# خدائي خدمتګار او جمعیت علماء هند

د کال 1919ء د نومبر د میاشتې پر دویشتمه نېټه په ډیلي کښې د خلافت غورځنګ یوه اولسي غونډه وشوه چې په کښې د ټول هند څخه استاځو ګډون درلود، په دغه استاځو کښې یو ګڼ شمېر د علماوو هم ؤ. کله چې غونډه پای ته ورسېده نو د هندوستان پنځۀ ویشتو علماوو یو جلا غونډه وکړه چې په کښې د جمعیت علماء هند په نامه د یوه سیاسي ګوند بنسټ کښېښودل شو چې مشرتوب یې د مفتي کفایت الله او ستر سکتر مولانا احمد سعید وټاکل شو. د دې سیاسي ګوند موخه هم هغه د هند بشپړه خپلواکي وه"(26).

د جمعیت علماء هند اغېزې د هندوستان پرته په افغانستان کښې هم وې، که څۀ هم په عملي ډګر کښې دې ګوند یوه مذهبي جنبه درلوده لېکن په سیاسي ډګر کښې دې ګوند د هند د خپلواکۍ دپاره د کانګریس، خدائي خدمتګار، انجمن وطن، احرار او خاکسار غوندې ګوندونو په څېر تګلاره درلوده، د دغه ګوند مرکز دېوبند ؤ، د دغه ګوند د دېوبند د مکتب فکر علماء لارښودنه کوله.

د خدائي خدمتګار او جمعیت علماء هند تر منځ د هند د ازادۍ په لړ کښې ډېر نژدې اړیکې پاته شوې وې، د جمعیت علماء هند سره د خدائي خدمتګار غورځنګ لومړی تړون هم هلته د ګجرات په بندي خانه کښې منځ ته راغلی ؤ. چرې چې د کانګریس د مشرانو پرته د جمعیت علماء هند مشران مولانا کفایت الله، مولانا احمد سعید او داسې نورو سره باچاخان د نژدې وکتل، د دغه ګجرات د بندي خانې بیا د هند تر خپلواکۍ پورې دغه دواړه نهضتونه په فکر او عملي حوالو دواړو یو ډول موخې درلودې. د جمعیت علماء هند امروه کښې د مۍ د دریمې نېټې څخه شپږمې نېټې کال 1930ء په غونډه کښې د نورو پرېکړو پرته د انډین نېشنل کانفرنس د لاهور د غونډې د هند د بشپړه خپلواکۍ د پرېکړې بشپړ ملاتړ اعلان وشو"(27).

دلته دا خبره کول ضروري ده چې چونکې خدائي خدمتګار د کانګریس د یوې برخې باوجود ځان ته جلا حېثیت هم ساتلی ؤ. خو چرې چې جمعیت علماء هند د کانګریس تګلارې تائیدوي نو د دې مطلب دا هم دی چې دوی ګوا د خدائي خدمتګار د نهضت د تګلارې سره بشپړه موافقه لري، جمعیت علماء هند د کال 1939ء د مارچ د میاشتې د دریمې څخه تر نهمې په خپله غونډه کښې

د وطن د خپلواکۍ د مبارزې په لاره د کانګريس سره د کومك او مرستې په زياتولو زور اچوي. هم د هغې يو كال وروسته د ډيلي په غونډه کښې د مسلم نېشنلسټ ګوندونو د يو خپلواك كانفرنس د رابللو وړانديز پاس كوي په دغه غونډه کښې د خدائي خدمتګار پرته انجمن وطن، ال انډيا مسلم مجلس، مجلس احرار، آل انډيا مومن كانفرنس، آل انډيا شيعه پوليټكل كانفرنس او كرشك پر چا ګوند استاځو ګډون درلود. د دغه كانفرنس يا غونډې مقصد د مسلم ليګ د يو جلا اسلامي رياست د غوښتنې اپوټه د يو ناتوانه وفاقي رياست، خپلواكو ايالتو او د مسلمانانو د حقونو خوندي ساتل وو. وروسته بيا هم دغه فارمولا په كال 1942ء او 1943ء کښې د لږ بدلون سره د جمعيت علماء هند سياسي پروګرام تشكيل كړ او په كال 1945ء کښې د هم دغه ټولو قامو ګوندونو د يووالي جواز هم چې د مسلم ليګ په ضد ؤ"(28).

په كال 1945ء کښې د اپرېل په مياشت کښې د خدائي خدمتګارانو له خوا را غوښتل شوي سياسي كانفرنس کښې د هند د نورو ګوندونو پرته جمعيت علماء هند مشرانو هم ګډون درلود، د دې غونډې اصل موخه د سول نافرماني تر غورځنګ وروسته د صوبه سرحد په ګانګريس کښې چې تعطل را منځ ته شوى ؤ د هغۀ لري كول وو. او د هندوستان پر روانو چارو غور كول او نوى لائحه عمل جوړول ؤ.

د هند د خپلواكۍ په معامله کښې د جمعيت علماء هند دريځ ډېر ښكاره ؤ. او كال 1927ء د جون د مياشتې پر څلرويشتمه نېټه په غونډه کښې د جون دريمې د پلان په حقله داسې دريځ خپل كړ.

"د جمعيت علماء هند د مجلس عاملې دغه غونډه دا خبره په ډاګه كوي چې جمعيت علماء هند تل د دې خبرې پخلى كړى دى چې د جمعيت نصب العين د هندوستان دپاره د بشپړه خپلواكۍ ترلاسه كول دي. د هندوستان وېش په خپله د هندوستان د خلقو او بيا د هندوستان د مسلمانانو دپاره ډېر تاواني دى، د مسلمانانو د حقونو خوندي كول او د سياسي او اقتصادي لحاظ تحفظ يوازې په دې بڼه كېدى شي چې كومه جمعيت علماء هند وړاندې كړې وه يعنې يو متحد هندوستان، ځكه نو مونږ د برطانوي د هند د وېش د دې ميلان سره سخت مخالفت ښكاره كوو"(29).

که چرې د کال 1931ء څخه تر کال 1947ء پورې د جمعیت علماء هند او خدائي خدمتګار نهضتونو پرتلیز جاج واخستل شي نو د دواړو غورځنګونو تر منځ د هند د بشپړه خپلواکۍ تر موخې پرته په هندوستان کښې د مسلمانانو د حقوقو، د وړو قامونو، د اقلیتونو او د صوبو او وفاق تر منځ د آئیني معاملو باندې بشپړه فکري یووالی لیدل کیږي، دواړه ګوندونه د هند د وېش خلاف وو او دواړو د عمل په ډګر کښې د عدم تشدد لمن نیولې وه. دواړه ګوندونه د کانګریس د تګلارې سره موافق وو. دواړو یو د بل په غونډو کښې ګډون کاوی. دواړو د سیاسي لارې پرته صحافتي او ادبي لاره هم د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو دپاره خپله کړې وه، په دغه ذکر شوې زمانه کښې کله هم دوی یو د بل په ضد څۀ ډول مهم نۀ دی چلولی.

## خدائي خدمتګا او مجلس احرار

د هند د خپلواکۍ په نهضتونو کښې مجلس احرار ځان ته د یو جلا فکر او مکتب لرونکی غورځنګ دی، که څۀ هم د دې غورځنګ بنسټ په کال 1929ء کښې اېښوول شوی دی لېکن د دې نهضت محور د خپلواکۍ د مبارزې سره تر دې ډېر وړاندې اشنا وو. د دې سیاسي نهضت موخه دا وه چې د هندوستان د خپلواکۍ په مبارزه کښې د کانګریس سره کومك کوي لېکن په عین حال کښې به د مسلمانانو د حقوقو دپاره ځان ته جلا مبارزه هم توده ساتي. حضرت مولانا سید عطاء الله شاه بخاري، مولانا حبیب الرحمان لدهیانوي، حضرت مولانا داؤد غزني، مولانا مظهر علي اظهر، چوهدري افضل حق او شېخ حسام الدین هغه نومونه دي چې د هندوستان د خپلواکۍ په مبارزه کښې به په طلائي تورو لیکل کیږي. د دغه غورځنګ مرکز پنجاب ؤ او د پنجاب په سلو کښې د نیوي فیصده خلقو حمایت او کومك د دوی سره ؤ.

مجلس احرار د سیاسي فعالیت په پیل کښې لاخپله موخه یو ځای څرګندوي.

"مجلس احرارِ اسلام دا په ډاګه کول غواړي چې د دوی نظریه دا نۀ ده چې په جغرافیائي، مسئلې یا ژبنیځ بنسټ دې حدود را منځ ته شي بلکې په هر حالت کښې د خدای پاك او د هغۀ د رسول صلی الله علیه وسلم په ښکاره کړل شوې لارې باندې تګ، د نېکۍ په کارونو کښې مرسته د نېکۍ حکومت جوړول او نېکي ته

رواج ورکول دي، مجلس احرار دا هم ښکاره کوي چې په کومه سیمه کښې یوازې د مسلمانانو د اکثریت یا وګړو په ذریعه د یو حکومت منځ ته راتلل د حکومتِ الٰهي په معنا نهٔ دی بلکې داسې ځاني یا جماعتي حکومتونه چې د اسلام په نامه د ځان ګټې ترلاسه کوي مجلس به د داسې هیڅا کومك و نهٔ کړي"(30).

د باچاخان د ګجرات د بندي خانې خبره دلته په بیا بیا تکرارېږي چې د باچاخان او خدائي خدمتګار غورځنګ د کانګریس، جمعیت علماء هند د مشرانو پرته د مجلس احرار د مشرانو عطاء الله شاه بخاري او داسې نورو سره په فکري ډول نزدېکت په هم دې بندي خانه کښې منځ ته راغلی ؤ او دې فکري نزدېوالي بیا وروسته د ټول هند د خپلواکۍ دپاره د یوې نېغې لارې بنسټ ایښودی ؤ، مجلس احرار او خدائي خدمتګار په سیاسي ډګر کښې د خپلواکۍ په مبارزه کښې د طریقهٔ کار څهٔ نه څهٔ بېلتون باوجود په فکري لحاظ یو د بل سره ملګري جماعتونه وو. د هندوستان د وېش په حقله چې کوم فکر د خدائي خدمتګار ؤ هم هغه فکر مجلس احرار درلود، د انګرېز په ضد که په صوبه سرحد اوسني خیبر پښتونخوا کښې سره جګړه خدائي خدمتګار توده ساتلې وه نو هم عمل په پنجاب کښې مجلس احرار تر سره کاوهٔ، ځکه چې د مجلس احرار مشرانو عطاء الله بخاري او مظهر علي اظهر د خدائي خدمتګارانو په کېمپونو کښې ګډون کاوهٔ، نو ورسره یې کوټه کښې د انجمن وطن اولسي غونډې هیرې کړې نهٔ وې، کله چې د هند په کچه دا پرېکړه وشوه چې د انګرېزانو له خوا ورکړل شوي خطابونه باید واپس کړل شي نو د احرار مشر حکیم اجمل خان د انګرېزانو له خوا د ورکړل شوي کشفاء الملك خطاب داسې کړ او اولس ورته د مسح الملك خطاب ورکړ او ورسره یې و سید عطاء الله شاه بخاري ته د امیر شریعت خطاب ورکړ. لکه څنګه چې د خدائي خدمتګار نهضت مشرانو د څهٔ ځانګړو عهدو او نامه لېواله نهٔ وو عین دغه حال مجلس احرار هم ؤ، د دغه جماعت د جوړېدو وړاندې د دې سیاسي ګوند مشران د هندوستان په غورځنګ کښې ډېر فعالیت اول ترسره کړی ؤ، دوی کله هم د فرنګي په هېڅ ډول د څهٔ مرستې او کومك طرفدار نهٔ وو، د صوبه سرحد څخه د مولانا عبدالرحیم پوپلزي نوم د څهٔ پېژندنګلوي احتیاج نهٔ لري، هم دغه مولانا صاحب د مجلس احرار د لوري د خدائي خدمتګار غورځنګ سره د هند د خپلواکۍ په لارې اوږه په اوږه پاته شوي

دي، کله چې په کال 1929ء کښې په افغانستان کښې د شاه امان الله خان په ضد دسیسې را پورته شوې د مجلس احرار دریځ داسې ؤ:

"زۀ په دې لیډلو سره ډېر زیات خوشحاله یم چې د پنجاب قامي کارکنانو د افغانستان په معامله کښې پر خپل وخت لاړښودنه کړې ده او دا خبره زما دپاره د لازیات خوشحالۍ وړ ده چې ټول هندو پرېس او هندو مشران په بشپړه جرات او زړۀ ورتیا سره شاه امان الله خان په مرسته کښې ږغ پورته کړی دی، زما دا باور دی چې دغه حالات به د هندو مسلم اتحاد دپاره د یو ډېره پیاوړې پربنه ثابته شي"(31).

د خدائي خدمتګارانو په کال 1945ء د اپرېل په میاشت کښې را غوښتل شوي سیاسي کانفرنس کښې چې لوی لوی استقبالیه دروازې جوړې شوې وې لکه فخر افغان ګېټ، ډاکټر سید محمود ګېټ، جواهر لال ګېټ، په هغو کښې عبدالرحیم پوپل زی ګېټ هم شامل ؤ. او ورسره د یو قرارداد د لارې د عبدالرحیم پوپل زي پر مرګ د ډېر خفګان څرګندونه وشوه او د خپلواکۍ په لاره کښې د هغۀ سرښندنې وستایل شوې.

د هند د وېش پر وخت د مجلس احرار هم هغه دریځ ؤ کوم چې د خدائي خدمتګار ؤ.

## خدائي خدمتګار او خاکسار غورځنګ

د هندوستان د سیاست په ذکر کښې د علامه عنایت الله مشرقي نوم ډېر د احترام وړ دی، دۀ د کال 1931ء د اپرېل په میاشت کښې په لاهور کښې د خاکسار په نوم د یو نهضت بنسټ کښېښود، د پنجاب په سیاست کښې یو داسې دور هم راغلی ؤ چې خاکسار د صوبې تر ټولو پیاوړی نهضت ګڼل کېدۀ، د پنجاب پرته د هندوستان په نورو سیمو کښې هم خاکسار تحریك خپل ښاخونه وغزول، د کال 1932ء د اکتوبر د میاشتې پر اوومه نېټه علامه عنایت الله مشرقي پېښور ته ولاړ دا هغه شپې وې چې باچاخان د خدائي خدمتګار بنسټ ایښی ؤ او د ګجرات په بندي خانه کښې بندي ؤ. د خاکسار تحریك د نورو موخو سره عین د خدائي خدمتګار په څېر د ټولنې اصلاح او د اولس خذمت خپل شعار ګڼلۀ، البته د خدائي خدمتګار په خلاف دوی د عدم تشدد پر اصولونو هغه ډول

باور نۀ درلود او د توپك مبارزې ته يې ترجيح ورکوله ځکه د کال 1934ء څخه د کال 1937ء د کانګريس د حکومت تر جوړېدو پورې په صوبه سرحد کښې د خاکسار نهضت مشران د سرکار د کلکې څارنې او زورونې لاندې وو. لکه څنګه چې د خدائي خدمتګار غورځنګ د ټولنې د غريبې طبقې، بزګرانو، خوارانو، مزدورانو جماعت ؤ هم دغسې خاکسار هم د ټولنې د هغه طبقې سره اړه درلوده کومه چې د غلامۍ پرته د روزمره ستونځو سره مخامخ وه.

په کال 1938ء کښې د حکومت له خوا ډېر په بې رحمانه ډول د خاکسار نهضت په ضد عمليات وکړل او په لاهور کښې يې ملګري شهيدان شول چې زياتره د صوبه پښتونخوا پښتانۀ وو، لکه څنګه چې باچاخان او خدائي خدمتګارانو به هره ورځ تمرينونه کول هم دغسې خاکسارانو هم خپل جلا ځان ته جامې درلودې، او تمرينونه يې کول، لکه څنګه چې باچاخان د چندو او خرڅو خلاف ؤ هم دغسې خاکساران هم د اولس څخه د چندې اخستلو په ضد وو.

***

# حوالې

(1) بخاری، فارغ، تحریک آزادی اور باچاخان، فکشن ہاؤس 18-رنگ روڈ لاہور. 1991ء، ص76.

(2) صابر، محمد شفیع، تاریخ صوبہ سرحد، یونیورسٹی بک ایجنسی خیبر بازار پشاور، 1986ء، ص916.

(3) خان ، عبدالغفار خان، زما ژوند او جدوجهد ، دولتي مطبعه کابل، 1983، ص392.

(4) Hamid Khan, Constitutionals and political History of Pakistan. Oxford University Press year 2009 p 20.

(5)) بخاری، فارغ، تحریک آزادی اور باچاخان، ص104.

(6) ایضاً، ص111.

(7) Mahadev Desai, Two Servent of God, Hindustan Times press 1935 (Forward) p 00.

(8) Ibid p 1.

(9) نہرو، جواہر لال، میری کہانی، تخلیقات لاہور، کال1996ء، 339.

(10) بخاری، فارغ، تحریک ازادی اور باچاخان ص137.

(11) ایضاً، ص173.

(12) خان ، عبدالغفار خان زما ژوند او جدوجهد ، ص 740.

(13) Baluchistan Weekly intelligence summaries L/P&S/ 12/3217/Acc 1677 year 1938, . Weekly Summary No. 21 Dated 27 May 1938

(14) خان شهيد ، عبدالصمد خان اڅکزی، زما ژوند او ژوندون، دوست خورونې کوټه کال 2004ء، ص 288.

(15) Weekly Summary No. 5 Dated 3rd Feb 1939 p 12 to 15.

(16) خان ، عبدالغفار خان زما ژوند او جدوجهد ، 603، 604..

(17) ترين، شوکت، انجمن وطن يو سياسي تجزيه، مشموله د پوهې او خپلواکۍ لاروی، د افغانستان د علومو اکاډمي د سيمه ييزو مطالعو مرکز کابل افغانستان کال 2012ء ص 202.

(18) ایضاً ، ص203.

(19) خان، عبدالغفار خان، زما ژوند او جدوجهد ، ص 605.

(20) ترین، شوکت، انجمن وطن یو سیاسي تجزیه، مشموله د پوهې او خپلواکۍ لاروی، ص 207.

(21) ساقي، فضل رحیم، سپاسنامه مشموله اووۀ ورځنی استقلال، کوټه، 22م فروري کال 1942ء، ص1.

(22) ایضاً، ص1.

(23) بخاری، فارغ، تحریک ازادی اور باچاخان، ص 191.

(24) اڅکزی، عبدالصمد، د انګریزانو تازه اعلان او پښتانۀ، مشموله اووۀ ورځنی پښتون، 9 اپریل 1947ء، ص 8- 9.

(25) Basta No.25 – Register Serial No4 Archival No. AGG V.1 38. Year 1946 Balochistan Provincial Archive Quetta, p 42.

(26) حافظ، تقی الدین، پاکستان کی سیاسی جماعتیں اور تحریکیں، فکشن ہاؤس لاہور، 1995ء، 137.

(27) ایضاً، ص 147.

(28) میاں، سید محمد، مولانا، جمعیت علماء ہند کیا ہے، ص 26.

(29) قریشی، محمد فاروق، مولانا ابوالکلام آزاد اور قوم پرست مسلمانون کی سیاست،، تخلیقات لاہور، 1997ء ص 638.

(30) ملک، عبداللہ، پنجاب کی سیاسی تحریکیں،، تخلیقات لاہور، کال 2003ء، ص 82.

(31) ایضاً، ص 42.

(32) قریشی، محمد فاروق، مولانا ابوالکلام آزاد اور قوم پرست مسلمانوں کی سیاست،، ص 633.